# په پښتو ادبیاتو کې د عرفاني افکارو پیدایښت او پایښت

لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک

**لنډیز**

په پښتو ادبیاتو کې د منظمې او سیستماتیکې عرفاني شاعرۍ لومړني څرکونه په اوومه هجري پېړۍ کې د شیخ متي غوریاخېل سړبني په شعرونو کې تر سترګو کېږي، له هغې وروسته څه نا څه درې پېړۍ بیا د دې ډول شاعرۍ کوم منظم څرک په پښتو ادبیاتو کې و نه لیدل شو، تر هغې چې د لسمې هجري پېړۍ په خوا و شاکې علي سرور لودي، شیخ عیسی مشواڼي او شیخ بوستان بړېڅ هر یوه یو ځل بیا د دې ډول شاعرۍ لوري ته د لوستونکو پام ور واړاوو. په همدې وخت کې د منځنۍ ادبي دورې بنسټ هم د تصوف او عرفان د لوی مرشد او پیر بایزید انصاري په لاس کېښودل شو، بایزید انصاري او مریدانو یې څه نا څه یوه پېړۍ پښتو ادب ته د تصوف او عرفان داسې څه نظرانه کړل، چې پښتو ادب یې په دې برخه کې د نورو پر مختللو ژبو سره سیال کړ. له بایزید انصاري او مریدانو

څخه پر ته نورو ډېرو شاعرانو هم لکه: خوشال خان خټک، رحمان بابا، عبدالقادر خټک، عبدالحمید مومند او داسې نورو په دې منځنۍ ادبي دوره کې صوفیانه او عارفانه شاعرۍ کړې دی او د پښتو ادب په ورشو کې یې د تصوف او عرفان رنګارنګ ګلونه کرلي دي. په همدې اساس په ټوله کې همدغه منځنۍ ادبي دوره او په ځانګړې توګه د دې دورې لومړۍ پړاو په پښتو ادبیاتو کې د صوفیانه او عارفانه شاعرۍ د اوج ټکی ګڼلی شو.

**بنسټیز ویونه: تصوف، عرفان، لرغوني ادبي دوره، منځنۍ ادبي دوره او اوسنۍ ادبي دوره.**

## سریزه

د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره په تیاره کې پټه ده، د زمانې خړو سېلابونو یې د شاعرانو او لیکوالو ډېری اثار له ځانه سره وړي دي، موږ نه شو کولای چې په دې دوره کې د عرفاني افکارو څرکونه په منظم ډول یو په بل پسې ولګوو؛ یوازې د پټې خزانې او د تذکره اولیا په مرسته د دې دورې د شاعرانو او لیکوالو ځینې شعري او نثري پنځونې تر موږ را رسېدلې دي، چې په هغې هره یوه کې څه نا څه د تصوف وړانګې لیدل کېږي او یو نیم بیت داسې خامخا لري، چې د تصوفي بیت مهر پرې لګول کېدای شي، خو منظم شکل نه لري، لکه څنګه چې پورته مو ذکر کړل، د دې دورې د شاعرانو او لیکوالو ډېری اثار ورک شوي دي، نو موږ اړ یو چې د لاس ته راغلو لاسوندونو له مخې په پښتو ادبیاتو کې د تصوفي او عرفاني شاعرۍ منظم پیل له منځنۍ ادبي دورې څخه وکړو. خو دا به په دې مانا نه وي چې له لویه سره پښتو عرفاني ادبیات له منځنۍ ادبي دورې څخه پیل کېږي؛ ځکه موږ په لرغوني ادبي دوره کې هم یوه یوه د عرفانۍ شاعرۍ بېلګه د ځینو شاعرانو لرو، چې وروسته وربانديې په تفصیل سره بحث شوی دی.

## عرفان او پښتو ادب

عرفان او تصوف په عشق او ریاضت نفسي تزکیه ده. د هر مذهب او فرقې په خلکو کې د هغوی په ټولنیزو رنګونو کې رنګ دی، خو هغه د تقویم الحق کاکاخېل مرحوم خبره «د پښتنو په ختې کې اخښل شوی دی، د ارزانې او دولت نه واخله تر حمزه

شينوارې پورې د پښتو شاعرۍ هېڅ دور د تصوف نه خالي نه دی پاتې شوی.» (۶)

تصوفي ادب دوه ډوله دی: يو د صوفي خپلې مشاهدې او تجربې وي، چې ادب ته يې را اړوي او يو هغه صوفيانه شاعري ده، چې د صوفيانو د اثارو او فلسفيانه انداز پايله وي. د دواړو توپير جوت دی، صوفي له معلومه ځايه ابهام ته ځي او دويمه ډله له ابهامه معلوم ته د تلو هڅه کوي. په پښتو ادب کې د دغه دواړو ډولو تصوفي افکار وينو؛ يعنې هم داسې پښتانه صوفي شاعران لرو، چې عملاً يې په تصوف کې د کومې تصوفي لارې پيروي کړې او هم داسې متصوف شاعران شته، چې عملاً يې د کومې تصوفي لارې پېروي نه ده کړې، خو د نورو د اثارو او افکارو پر اغېز يې صوفيانه شاعري کړې ده. تر هغې لومړې ډلې نه د دويمې ډلې متصوفينو شاعرانو افکارو پر پښتو ادب ډېر سيوری غوړولی دی.

لکه څرنګه چې څرګنده ده، د لاسته راغلو لاسوندونو له مخې په پښتو ادبياتو کې د غوري واکمن امير کروړ (۱۳۹ واکمن) حماسي شعر د لومړنۍ ادبي ثبت شوې پنځونې په توګه تر موږ را رسېدلی دی. چې کومه تصوفي او عرفاني شعري بېلګه يې نه شو ګڼلای، خو تاريخي لاسوندونه موږ ته د هغه د وېناوال په باب دا را ښيي، چې هغه تل خپله توره د تصوف او خدای لمانځنې په چوپړ کې چلوله، په دوی پسې د غور نورو واکمنانو د خپلو مشرانو په څېر د ديني عالمانو او روحانيونو مجلسونه ګرم ساتلي دي، د هوتکۍ دورې ستر عارف او روحاني لارښود مولانا زعفران د «ګلدسته» زعفراني ليکوال له هر چا ښه بېلګه جوړېدای شي. د لودي واکمنانو د خدای لمانځنې کيسې هومره تودې وې چې د منځنۍ اسيا نه تر جنوبي اسيا خورې پاتې شوې دي. (۱)

له دې څخه ښکاري چې پښتانه تل خدای پالونکي او مذهب پاله پاتې شوي دي، نو څرنګه چې تصوف د مذهب روح دی، لرې نه ده چې په دوی کې به تصوف او عرفان آن د دوی د ژوند له پيله څخه موجود ؤ، خو له بده مرغه چې د دوی ډېری آثار د زمانې سېلابونو له ځانه سره وړي دي.

په منظم او سيستماتيک ډول سره په پښتو ادبياتو کې د عرفاني افکارو لومړنۍ

ځلاوې د شيخ متي عليه الرحمه په شعرونو کې مونډلی شو. د نومورې د ژوند زمانه د (۶۲۳ – ۶۸۸) تر منځ اټکل شوې د نظم او سيستم خبره مو ځکه وکړه، چې شيخ متي بابا د لومړي ځل لپاره د اسلامي تصوف او عرفان د وجودي ګروهې په رنګ رنګينې شعري مرغلرې د پښتو ادب د ناوې د غاړې امېل کړې دي، تر ده وړاندې ښايي ډېرو نورو شاعرانو د مناجاتو په شکل څه نا څه په دې برخه کې خپل زور آزمويلی وي او يو نيم بيت يې داسې ليکل وي، چې د عرفان او تصوف مهر دې پرې ولګول شي؛ لکه د بېټ نيکه دا لاندې بيتونه:

هسک او مځکه نغښته ستا ده
د مـــــــړو وده لـه تا ده
دا پالنــــــه ستا ده خدايه!
لويه خدايه! لويه خـدايه! (۲)

خو هغه څه چې متي بابا ته امتيازي حيثيت ورکولی شي، هغه يې د داسې عرفاني او تصوفي شعر ليکل دي چې له سره تر پايه په کې وجودي وحدت چې د اسلامي تصوف او عرفان يوه تر ټولو ستونزمنه ربړه ده، ښکاربدل دي. د دې څخه دا هم څرګندېږي، چې هغه به د تصوف او عرفان په ټولو رمزونو پوه ؤ او ډېر به يې پر دې ځمکه داسې نور شعرونه هم ليکلي وي؛ خو له بده مرغه چې د زمانې خړو سېلابونو يې يو بشپړ شعري جونګ (د خدای مينه) چې پر افغانستان باندې د مغلو له تاړاک مخکې به يې پر مزار پروت ؤ او د ده مينه والو به پرې خپله ادبي مينه خړوبوله له ځانه سره وړی دی:

که لمر روښانه مخ يې سپين دی
يا د ســــپوږمۍ تندي ورين دی
که غـر دی ښکلی پر تمين دی
لکه هنداره مخ د ســـــين دی

ستا د ښـــکلا دا پـــلوشه ده
دایې یوه سپکه نـــنداره ده (۵۳۸)

پورتنی شعر مو په ذهنونو کې په پشپړه توګه د وحدت الوجودیانو دا باور چې « هر اسم، صفت او فعل چې په ظاهر عالم کې دی، د دې ټولو اصل هم هغه باطن وصف دی او د دې کثرت حقیقت هم هغه وحدت دی.» (۱۱) انځورولی شي.

له شیخ متي بابا وروسته د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې د عرفاني افکارو ځلاوې او ورانګې بیا تر لسمې هجري پېړۍ پورې تتې ښکاري؛ اما په لسمه هجري پېړۍ کې موږ له افغانستان او پښتونخوا نه ډېر لرې د هندوستان په سیمو کې اوسېدلي درې پښتانه شاعران پېژنو، چې درې واړه لوی صوفیان، عابدان او زاهدان وو او کوم پښتو اثار چې له دوی څخه را پاتې دي، د عرفاني افکارو بیانوونکي دي. دغه په هندوستان کې اوسېدلي درې پښتانه عارف شاعران: شیخ عیسی مشواڼی، شیخ علي سرور لودي او شیخ بوستان بړیڅ دي. د دوی احوال او اثار په پټه خزانه، مخزن افغاني، مرآت الافاغنه، تاریخ مرصع او نورو اثارو کې راغلي دي او د دوی روحاني مرتبې او عارفانه مقامونه یې ښوولي دي. له دغو شاعرانو څخه شیخ عیسی مشواڼی د هندوستان په دامله کې اوسېده او د هندوستان د افغان پاچا شېرشاه سوري معاصر ؤ. د ژوند زمانه یې د (۹۵۰ هـ ق) شاوخوا ټاکل شوې ده. ده په پښتو، پارسي او هندي ژبو یوه ګډه رساله لیکلې وه. دا رساله منظومه وه، چې له دغو درې سرو ژبو څخه د ده د کلام نمونه مخزن افغاني او نورو کتابونو اخیستې ده. په دغو نمونو کې یوه درې بیتیزه کوچنۍ پښتو غزله هم شته، چې دلته راوړل کېږي:

په خپله کار کړې په خپله انکار کړې
کـــله بادار یم کله مې خوار کړې
ته خـــو قادر یې په صـــــفتونو
کـــله مې نور کړې کله مې نار کړې

عیسی حیران دی په دې شـــــیونو
کــــله مې یار کړې کله اغیار کړې

د ده لـه دغـو څـو محدودو بیتونـو څخه موږ تـه شیخ عیـسی مشوانی د یـوه پاخه صوفي په بڼه څرګندېږي او دی چې په کومه شېوه وینا کوي، د ده د وینا طرز د حضرت خواجه عبدالله انصاري پیر هرات مناجاتو ته نېږدې والی ښیي.

تر شیخ عیسی وروسته د هند په سیمو کې بل اوسېدونکی عارف شاعر، شیخ علی سرور لودي دی، چې دی هم د لسمې هجري پېړۍ په دوران کې د ملتان په کهرور نومې سیمه کې اوسېده، مرحوم استاد حبیبي یې دژوند زمانه د (۹۶۰ هـ ق) حدود ټاکلې ده. ده د مریدانو یو حلقه درلوده او له دې سربېره خلکو به هم د دیني او عرفاني مسایلو د حل په برخه کې ده ته رجوع کوله. محمد هوتک په پټه خزانه کې د تحفه صالح په حواله د ده یو صوفیانه غزل او هم د ده ځینې عارفانه اقوال را اخیستي دي. چې د غزل څو بیتونه یې دا دي:

محبت پیاله مې نوش کړه په مجــاز کې
د حـــق نور وینم په ســـترګو د ایاز کې
درست وطن راته دریاب شو بـــې دیدنه
دید مې نه شي مګر خدای مې سبب ساز کې
که زه مړ شم هم له ګوره کړم ســـر پورته
ناګــــــهان چې مې دلبر پورته اواز کي
ګـــــران بېلتون به د هغو مـــینو وینه
چې تل ناست وي په خلوت کې سره نیاز کي

په پټه خزانه کې د علي سرور لودي له اقوالو او غزلې معلومېږي، چې شیخ په اسلامي تصوف کې د زیاتې مطالعې خاوند ؤ او د لویو متصوفانو اثار یې لوستي وو او د ډېرو مشکلو عرفاني مسالو د حل صلاحیت یې درلود.

د دې ډلې دريم شاعر شيخ بستان بړيڅ دی، د ده يوه له شوره ډکه او د ده له عرفاني جمال سره برابره يوه خوندوره بدله د پټې خزانې مولف په خپل کتاب کې اخيستې ده، چې زه يې (سر) او يو بند دلته راوړم:

اوښکې مې څاڅي په ګرېوان يو وار نظر که پرما
راسه ګذر که پر ما

® ® ®

د مينې اور دې زما زړګي وريت په انګار کئ نا
ښې تارونار کئ نا
خود به وپلېږم چې مې زړه پرتا مفتون کئ نا
ځان مې زبون کئ نا
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پرما

له لوړو يادو شويو عارفانو شاعرانو سربېره بل شاعر چې د کندهار په سيمو کې تېر شوی دی. هغه شيخ محمد صالح الکوزی نومېږي. د ده احوال او اشعار ملا الله يار په تحفه صالح کې راوړي دي، پټې خزانې د ده دوې غزلې د تحفه صالح په حواله را اخيستې دي، چې له هغو دوو څخه يې د يوې څو بيتونه دا دي:

دليلی د مينې فيض هر سبا وړم
بېهوده منت به ولې د نور چا وړم
پر دنيا که تجارت څوک د دنيا کي
زه د زړه په بازار بار د عشق سودا وړم
بې له عشقه خوشحالي پرما حرامه
زه (صالح) که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم

دا لوړه غزله شيخ محمد صالح د کندهار د هغه وخت صوبه دار شاه بېګ د غوښتنې په ځواب کې ليکلې او ورلېږلې وه، د ده په لوړه غزله کې يو ډول عارفانه استغنا ليدل کېږي

او د کوم عشق یادونه چې ده کړې ده، هغه د ده له حال سره سم الهي عشق دی، چې د ټولو صوفیانو زړونه پرې ښاد وي. د دغو صوفیانو منظم او ډېر اثار زموږ په واک کې نشته، یوازې د پخوانیو مورخانو د لیکنو او د دوی د خپلو لږو اثارو له مخې دومره ویلای شو، چې دغه کسان عارفان وو او له دغې پوهې خبر او په دې لاره روان وو. (۷)

په همدغه و ختونو کې د پښتو ادبیاتو د منځنی ادبي دورې بنسټ هم د تصوف د لوی پیر او مرشد بایزید انصاري په لاس کېښودل شو. بایزید انصاري او پل یوني یې د پښتو ادب په ورشو کې د تصوف او عرفان داسې رنګارنګ ګلونه و کرل، چې نه یې مخکې ساری لیدل شوی ؤ او نه به په راتلونکې کې ولیدل شي. دوی په لومړي ځل تصوف او عرفان د یوه تحریک په شکل پښتو ادب ته دننه او د اسلامي تصوف د وحدت الشهود په وړانګو سره یې وړنګن کړ. چې کله کله د وحدت الوجود خواته هم تمایل ښیي. بایزید انصاري په خپله تصوفي لاره کې په لومړي ځل د یوه سالک لپاره آتـه مقامه: شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت وټاکل او د نظریاتي تصوف تر څنګ یې د عملي تصوف بیرغ هم اوچت کړ. او هم یې په خپل دې عرفاني او ادبي ښوونځي کې ارزاني، میرزا، مخلص، دولت، واصل، کریمداد او داسې نور پیاوړي عارفان او خدای پېژندونکي شاعران وروزل؛ چې هغوی هر یوه بیا په ځانګړې توګه له دې لارې پښتو ادب ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي.

د بایزید روښان د ادبي مکتب او فکري نظریاتي شاعرۍ لومړی هېنداره د ارزاني شعرونه دي. ملا ارزاني روښاني ښوونې او فلسفه تر ټولو ړومبی پښتو شاعرۍ ته را ګډه کړه. د تصوف د دوو لویو نظریو وحدت الوجود او وحدت الشهود نومونې او تصوفي اصطلاحات او تصوفي تمثیلونه د ده په شاعرۍ کې را څرګند شول او په دې توګه د ارزاني شاعري د فکر او فن له مخې د روښاني شاعرانو لپاره د لارې مشال شوه. د بېلګې په ډول ارزاني وایي:

دا احـد پـه میم احمد دی
احـــد یـو دی له احمده
دا د میم برخه کثرت شو
لــه احــده شو عــدده

میرزاخان انصاري د ده پر ځمکه داسې یون کوي:

احــمد یو دی لــه احده
که د میم رشحه کړه حکه
لــمر ختلی پـه جهان دی
پســـو پټ له شب پر که

علي محمد مخلص یې هم بدرګه کوي:

پـــه دا مـــیم احـد احمد شو
کـــه میم و تـراشې احد شو
چـې د میـــــم آلایش ووځي
پر ځای پاتو پاک حمد شو (۱۲)

میرزاخان انصاري تـر ارزاني وروسته د روښـاني ادبي ښـوونځي مـشر شـاعر دی، چې پوهاند عبدالحی حبیبي یې په پښتو ادبیاتو کې آن د تصوفي شعرونو مؤسس ګڼي او پـه اړه یې وایي:

« دی په پښتو کې د تصوف او د سلوک د مسلک اولین مؤسس ګڼل کېږي او د پښتو په تصوف کې هغه مرتبه لري، کوم چې د فارسی {دری} پـه تـصوف کـې حکیـم سنایي په نصیب سوې ده. دی اول سړی دی چې په پښتو کې یې د تصوف د شعر ور پرانـتـی دی او د توحید او د معرفت اسرار یې په پښتو کې ځای کړي دي.» (۳)

دی هم په خپل شعر کې د روښاني طریقت بلندوی دی، خو لـه مـشر شـاعر ارزاني سره یې توپیر په دې کې دی، چې دی تـصوفي اصطلاحات ډېر کـاروي، چې دې چلنـد یـې

شاعرۍ ته عمق ورکړی او یو ډول ابهام یې رامنځته کړی، چې د شعر د کره کتونکو په اند په ابهام کې عظمت دی. د میرزا خان انصاري شعر د روښاني عرفان تر ټولو شفافه هینداره ده. پر خفي ذکر د پیر روښان ټینګار د دې مانا لري چې په جلي ذکر کې د دویۍ احساس را پیدا کېږي او دا وحدت الوجود دی. میرزا وایي:

میرزا په خپله هیڅ ویلي نه دي
په قفس کې د واحد توتي اواز کا

د روښاني مکتب بل پل یونی علي محمد مخلص دی، نوموړی د روښاني شاعرانو تر منځ لوړ او اوچت مقام لري. او لکه د نورو سترو روښاني شاعرانو پر فن یې فکر ځواکمن ښکاري. خو د فکر له ځواکمنۍ سره سره د عرفان رموزو او اسرارو د ده شاعرۍ ته یو هنري ښایست ورکړی دی:

دغه علم به بې ذوقه حاصل نه کړې
څو مزه دې په حلقوم نه شي درونه

د دې ښوونځي د بل شاعر دولت لواڼي شاعري هم د پښتو ادب یوه لویه عرفاني پانګه ګڼلی شو، د علامه استاد حبیبي په وینا، د دولت په تغزلاتو او قصیدو کې عرفان، اخلاق او شرعیات سره ګډ دي، چې په پښتو کې یې د سنایي د قصیدو پیرو ګڼلی شو، خو د سنایي د شعریت قوت نه لري:

شـــرین یار چې مې د زړه په سترګو تل کوت
هـــر ساعت به مې د مینې د ده ګـــــل کوت
د دیـــدن شراب یې راکړه هسې مـــست شوم
چې هـــر جز مې د مانا په صـــورت کل کوت
ځـــان جهان را څخه هېر شو په مســـتۍ کې
لور پر لور به مې د لبر جلوه ګر خپل کوت (۱۲)

په همدې شکل سره د روښاني ادبي ښوونځي نورو شاعرانو لکه واصل، کریمداد او

حتی د دوی مخالف اخون درویزه او د هغه پلیونی کریمداد په دې برخه کې په پراخه توگه خپل قلمي ځواک آزمویلی دی.

د همدې یوولسمې پېړۍ په جریان کې چې د روښانیانو او اخوند درویزه ډلې د پښتو آثارو د تألیف او ترجمې او د عرفاني اشعارو د ایجاد په کاروبار لگیا وې، موږ د ځینو داسې متصوفو شاعرانو، دیني او اخلاقي مبلغینو او واعظانو یوه ډله هم لرو، چې نه د روښانیانو په ډله پورې اړه لري او نه یې سړی سل په سلو کې د درویزه په پیروانو پورې تړلای شي. د دغه عارفانو او واعظانو په ډله کې موږ د دغو ویناوالو یادونه کولای شو: میا علي محمد، قمردین، شېرمحمد، اخوند مصري، شیخ آدین، آزاد، بېگ محمد، قادر، میا الهداد، نجابت، عیسی کاکړ، ملا الف هوتک، ملا مست ځمند، صدیق، شیخ آدم، آخوند میاداد، گنډیر، فتح شاه او داسې نور. چې دوی ټولو هم په دې برخه کې پښتو ادب ته ډېر څه نذرانه کړي دي.

له دوی وروسته خوشال خان خټک لکه څرنگه، چې د تورې د حکمت او فلسفې شاعر ؤ، دغسې یې مذهبي شاعري هم کړې ده او په خپلو شعرونو کې یې ډېر ځله د خدای (ج) او رسول (ص) سره د مینې او عقیدت اظهار کړی دی.

خوشال بابا په تصوف او عرفان کې د شیخ رحمکار (رح) شاگرد ؤ او د هغه څخه یې خپل عرفاني تعلیمات کړي وو، له دې څخه ښکاري چې خوشال بابا د نظریاتي تصوف تر څنگ یو عملي صوفي هم ؤ. په یوه صوفیانه بیت خو یې حمزه شینواری یو بشپړ کتاب لیکلی چې د صوفیانه ادب غوره پانگه ده:

په هر څه کې ننداره د هغه مخه کړم
چې له ډېرې پیدایۍ ناپــدیــد شــه

خوشال بابا د وحدت الوجود او وحدت الشهود صوفیانه نظریو ته څو ځایه په خپلو شعرونو کې اشاره کړې، چې پورتنی بیت یې یو بې مثاله گواه دی، له دې څخه ښکاري چې هغه د تصوف په ټولو رمزونو پوه او واقف شخصیت ؤ. په یوه بل بیت کې یې لولو:

هر تشنه چې د وحدت په سیند سېراب شي
نور همه جهان و ده و ته ســــراب شي

عبدالرحمان بابا خو یو داسې صاحب حال صوفي شاعر تېر شوی، چې اوس په پښتو شعر کې تصوف او رحمان بابا په خپلو کې لازم او ملزوم دي، چې د تصوف ذکر کېږي، رحمان بابا به یادېږي او که د رحمان بابا ذکر کېږي، تصوف به ضرور تر بحث لاندې راځي. دا چې عبدالرحمان بابا خپله صاحب حال صوفي ؤ، ځکه یې په شعر کې هغه ټولې مرحلې په نظر راځي له کومو سره چې، صوفي د مراقبې او رياضت په دوران کې مخ کېږي. د هغه په شعر کې ځای په ځای د وحدت الوجود نظریه بیان شوې:

هر چې دي سېوا له خدایه
واړه وګـــــڼه نابــــود

ولې د وحدت الشهود نظریه یې هم په کثرت سره په خپلو شعرونو کې بیان کړې ده:

دا زما د یار جلوه ده، چې لیدی شي
لـکه نمر په سومعه په سومنات(۴)

د خوشال بابا زوی عبدالقادر خان خټک هم د خپل دور یو ښه متصوف شاعر ګڼلی شو، هغه عملي صوفي ؤ او په دې برخه کې یې د شیخ سعدي لاهوري لاسنیوی کړی ؤ. استاد مصطفی سالک خو یې تر عبدالرحمان بابا نه هم په تصوف کې لوړ ګڼي لکه چې په اړه وایي: « خلک صوفي شاعر رحمان بابا ګڼي، خو زما په آند له روښانیانو وروسته زموږ په شاعرانو کې عبدالقادر خټک تر ډېره ځایه صوفیانه شاعري کړې ده؛»(۷) په هر حال شعر یې تر ډېره بریده د وحدت الوجود او وحدت الشهود په پېچلو فلسفو رنګ دی:

دلــــــبر مخ راته ښیي په هر آئین کې
ګه په تور کې جلوه ګر شي ګه په سپین کې
ګـــــه په زلفو کې ځای وکا زړه را کاږي
ګه په ســــتر ګو په رخسار او په جبین کې

په ځـــــراغ کې تجـــلا کا و پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نســـــرين کې
په هـــــر څه کې ګوره يار عبدالقـــادره
که دې نشته شک ګمان په خپل يقين کې (۳)

تر دې وروسته تصوفي او عرفاني مرغلرې چې د چا په شعرونو کې سترګکونه وهي، هغه د پښتو ادب نازکخياله او د هندي سبک سر لاري شاعر عبدالحميد مومند دی، که څه هم هغه په څرګنده په خپل ديوان کې ډېر ځايه پر دې ټينګار کوي، چې ګواکې نه د کومې تصوفي لارې پيرو دی او نه يې په دې برخه کې له چا څخه لاسنيوی کړی دی لکه چې وايي:

له شېخئ راته بهتره شوه رنـــدي بيا
ناصحان مې دې په سل رنګه غنـدي بيا
ښــه چې خلاص شوم د ريا له تشه زهده
خدای دې را نه کا دا هسې خود پسندي بيا
د ګونديه زړه ترې صبر کړه ناصـــحه
له رندئ سره «حميد» شو سوګندي بيا(۸)

خو که چېرته د ده د ځينو شعرونو منځپانګې ته په ځېر سره وکتل شي، داسې ډېر تصوفي او عرفاني (دُر او مرجان) يې د پښتو ادب د ناوې د غاړې امېل کړي دي، چې په ليدلو يې د ليدونکي پام له ښکلا څخه د ښکلوونکي لوري ته ور اوړي لکه په لاندې بيت کې:

جستجو کړم ستا د مخ په دواړه ځايه
که کعبې که بتخانې ته تګ پوی کړم

او يا

غیر فکر دوزخي شي په کې سوځي
زړه مې ګرم تر سقر دی ستا له درده
یو ز ګېروی کا په مسجد په میخانه کې
مسلمان دی که کافر دی ستا له درده (۸)

همدا راز په نورو شاعرانو کې لکه: کاظم خان شیدا، علي خان، خواجه محمد بنګښ، مطیع الله نیکه، حافظ الپوري، حنان بارکزی او داسې نورو ډېرو په خپلو شعرونو کې د سلوک او معرفت، دخدای تعالی د مینې او عشق مضامین ذکر کړي دي.

تر دوی وروسته دا ډول مضامین چې د چا په شعرونو کې ډېر وینو هغه د معاصر افغانستان بنسټ ایښودونکی، لوی اتل حضرت احمد شاه بابا دی، هغه نه یوازې نظریاتي صوفي ؤ بلکې عملي صوفي هم ؤ او په دې برخه کې یې عملاً د نقشبندیې په طریقه کې د میا عمر قدس څخه لاسنوی کړی ؤ، دهغه تصوف تش زهد او رهبانیت نه ؤ، بلکې د جهاد روح او د خلکو خدمت یې غایه وه، ځکه یې د تصوف ترڅنګ د پاچاهي چارې هم پر مخ وړې:

دا زما د صـــــورت ختـه
پــه څـــــلور عنصره پټه
که څلـــور عنصره واخلې
په خپل څېر ده کټه مټه(۱۰)

د احمد شاه بابا معاصر پیر محمد کاکړ هم د خپل وخت یو مشهور متصوف او عارف شاعر تېر شوی دی. د یوې تصوفي غزلې څو بیتونه یې دا دي:

ناز د خـــــوبانو پر لېمـــه وړسي
چې څوک یې نه وړي په حق به پړ سي
پر سجـــده ژاړه و خـــپل حبیب ته
څو دي په اوبنـــــکو مځکه چکړ سي

رتبـــه که غواړې فروتـــني کړه
چې پورته خـېژې اخر په ځوړ سي (۵)

تر دوی لږ موده وروسته د همدې کندهار په سیمه کې بل ډېر مشهور عارف او صوفي شاعر حبیب الله چې په (حبو اخوندزاده) مشهور دی، یو بې بېلګې متصوف او عارف شاعر ګڼلی شو، نوموړی د نقشبدیې په طریقه کې د میافقیر الله حصارکي لاسنیوی کړی ؤ، د یوه تصوفي شعر څو بیتونه یې د بېلګې په توګه راوړم:

په هـــــر شي کې تجلی
شــــان په شان ګڼه جدا
ګوښـــی شان دی په هر آن
کــل یوم هو فی شــــان
چې څه خـیر یا کمـال دی
یا څه حـسن یا جمـــال دی
ټول له حـقه مستعـــار دي
په ممکن کې نمودار دي (۵)

په کندهار کې د دې زماني نور مشهور متصوف شاعران دا دي: ملا صالح محمد داوي، ملا عبدالنبي بېټنی، ملا محمد ایاز نیازی، ملا محمد صدیق کاکړ، حاجي جمعه، ملا عبدالباقي کاکړ، سید عطوجان اغا، سید طوطي اغا، ملا حسن، مولوي محمد سرور واصف، جانان هوتک او داسې نور.

په شلمه پېړۍ کې د صوفیانه شاعرۍ غوره استازی حمزه بابا دی، هغه نه یوازې نظري صوفي ؤ، بلکې عملي صوفي هم ؤ، ځکه یې په ډېره بارک بینۍ سره صوفیانه موضوعات په خپل غزل کې څېړلي دي. د حمزه بابا په غزل کې صوفیانه رنګ په دې ځانګړی دی، چې هغه په تصوف کې هم د پښتني نفسیاتو خیال ساتلی دی:

ما حمزه ته یثربي باده خاونده
په ښاغلې پیمانه کې د افغان را

او یا

حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زه د پښتـــون د قافلو سره ځم

د حمزه بابا په شعر کې د وحدت الوجود نظریه غزونې کوي، خو د «وحدت» لپاره هغه د «کثرت» وجود هم مهم ګڼي او له کثرته پرته د وحدت منلو ته هم تیار نه دی. کثرت د وحدت د پېژندنې وسیله ګڼي.

که هر څو ګوره کثرت زما خوښ نه دی
ولې بې له دې وحدت زما خوښ نه دی

او یا:

یا خو هیڅ نشته دا واړه وهم و خیال دی
او که وي نو بس د یار به وي وجود (۴)

په صوفیانه شاعرۍ کې که چېرې دلته د غني خان نوم وانه خیستل شي، بې انصافي به وي، که څه هم هغه په څرګنده ځان صوفي نه ګڼي:

ما له د صوفي په فقیرۍ کې وصال نشته دی
ماته د ساقي سترګې خبرې د جانان کوي (۹)

خو بیا یې هم داسې صوفیانه موضوعات په خپلو شعرونو کې رانغښتي، چې په لیدلو یې د لیدونکي سترګې له مخلوق څخه د خالق او له وجود څخه د موجد لوري ته ور اوړي:

کـــله ګـــورم زمکې ته او کله ګورم ستورو ته
کـــله ګلـستان کې د قبرونو خازو تورو تـــه

ګـــورم بت خانه کې ستا د حسن تجلی کـــله
کله په سجدو، کعبه کې وینم خلک نورو ته (۹)

شلمه پېړۍ څنګه چې په بنیادي توګه د مادیت پرستۍ په پنجو کې را ګیره وه او ځمکني مسایل زیات وو؛ نو ځکه له حمزه بابا راوروسته دغې کړۍ له بده مرغه د تسلسل بڼه غوره نه کړه؛ البته یو څو داسې شاعران شته، چې د هغو په شعرونو کې د تصوف د جذبو بڅرکي بلېږي، چې په هغو کې په کوزه پښتونخوا کې رښنواز مائل، عبدالرحیم مجذوب، منتظر بېټنی، خالد پښتون، محمود ایاز، عبدالرحیم رفیقي، اظهار الله اظهار، رازق فهیم، رحیم داد همزولی، سید شاه سعود او په بره پښتونخوا کې استاد فضل ولي ناګار، مصطفی سالک، عبدالباري جهاني، پیر محمد کاروان، عبدالله پیکار او شاید داسې نور هم وي، خو ما به لا د هغوی په اړه معلومات نه وي حاصل کړي. (۴)

پایله

د پایلې په توګه ویلای شو چې په پښتو ادبیاتو کې د تصوف او عرفان څرکونه آن له هم هغه د ثبت له لومړۍ شېبې څخه لیدل کېږي، خو منظم او سیستماتیک شکل نه لري، ځکه د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره په تیاره کې پټه ده او د شاعرانو او لیکوالو ډېری اثار یې د زمانې خړو سېلابونو له ځانه سره وړي دي. نو موږ باید د تصوفي ادب پیل له منځنۍ ادبي دورې څخه وکړو، ځکه یو خو یې اثار د زمانې له تاړاکه څخه خوندي پاتې دي او بل په کې د لومړي ځل لپاره دیوه تحریک په شکل تصوف او عرفان پښتو ادب ته دننه شو او د دې د امتیاز پګړۍ هم د تصوف د لوی پیر او مرشد بایزید انصاري پر سر اېښودل شوې ده.

بایزید انصاري او پیروانو یې څه نا څه یوه پېړۍ پښتو ادب ته د تصوف او عرفان ډېر څه نذرانه کړل او پښتو ادب یې له دې لارې ښه بډای کړی دی. په دې دوره کې له دوی پرته ډېرو نورو شاعرانو او لیکوالو هم لکه: خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمید مومند، عبدالقادر خټک، علي خان، کاظم خان شیدا او داسې نورو هره یوه په دې برخه

کې خپل قلمي ځواک ازمویلی دی. په حقیقت کې د پښتو ادبیاتو په همدغه دوره کې د عرفاني افکارو ګراف اوج ته رسېدلی دی.

## اخځلیکونه


۱- اسحاقزی، اورنګزیب. (۱۳۹۰). **عرفان او ادب**. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.صص۹۰

۲- حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴). **د پښتو ادبیاتو تاریخ**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. صص۴۷۳، ۵۳۸

۳-حبیبي،عبدالحی. (۱۳۹۱). **پښتانه شعراء**. کندهار: لومړی ټوک. علامه رشاد خپرندویه ټولنه. صص ۱۰۵، ۱۴۳

۴- ځلاند، طایر. (۱۳۹۱). **د پښتو غزل تنقیدي جاج**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.۱۴، ۱۷، ۱۵

۵-ځلمی، محمد ولي. (۱۳۸۷). **د کندهار مشاهیر**. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه. ۱۷۹، ۱۹۴

۶- زلمی، هېواد مل. (۱۳۷۹). **د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دوره)**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. صص ۷۷، ۷۸، ۷۹، ۱۲۱، ۸۰

۷- سالک، مصطفی. (۲۰۱۳). **منشور کره کتنه**. پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه. صص۱۵۵، ۷۱

۸- صمیم، اصف. (۱۳۸۳). **د عبدالحمید مومند کلیات**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. صص۱۰، ۱۶۸

۹- غني خان. (۲۰۱۲). **لټون**. پېښور: یونیورسټي بُک اېجنسي. صص۷۱۹

۱۰- موحد، مومن. (۱۹۱۹). **د احمدشاه بابا دېوان**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. صص۱۰۱

۱۱- ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۸) **عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې یې څرکونه**. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه. صص۳۷

۱۲- ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۲). **د بایزید روښان عرفاني ادبي ښوونځی**. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه. صص۱۶۲، ۱۶۳، ۱۷۳، ۱۸۷